آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۲/۰۲

# د میوندوال د کودتا په تور،

## تورنو ته د سزا ورکولو حقوقی اړخ ته یوه کتنه

دویم برخه

د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د خپل لومړی موجودیت نه ډیر لږ وخت وروسته یعنی د ۸۴۱۹ کال د دسمبر د میاشتی په لسمه نیټه، د غړو هیوادونو په عمومی اسامبله کی چی د فرانسي په پلازمینه د پاریس په ښار کی جوړه شوی وه د (بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه) تصویب او نشر کړه او له همدی نیټي نه یی هغه په ټوله نړی کی جاری وبلله. زمونږ هیواد افغانستان یو له هغو لومړنیو هیوادو څخه و چی د دی نړیوالي مؤسسی غړیتوب یی تر لاسه کړی او د هغی منشور یی له هماغي لومړی ورځی نه تر دا ننه پوری د بیلابیلو واکمنانو او رژیمونو (شاهی، جمهوری، جمهوری دیموکراتیک، جمهوری اسلامي، امارت اسلامي) ټولو د هغه په منلو او مراعات کولو خپل دولتي سیستم مکلف ګڼلی او هغه یی په مکمله توګه منلی دی.

«.... ـ جرم یک امر شخصی است، تعقیب، گرفتاری یا توقیف متهم و تطبیق جزا بر او به شخص دیگری سرایت نمی کند.»دا مفهوم د قرآن عظیم الشان په یو مبارک آیات کی داسی بیان شویدی: (لاتزر وازرته وزر اخری (یعنی» هرڅوک د خپلو عملونو مسؤل دی او هیڅوک په آخرت کی د بل حا بار په اوږو نه وړی»

پوښتنه: د پورته فقری د حکم په اساس او د قرآن عظیم ا لشان د مبارک آیات د حکم له مخی، ایا د دی متهمینو کورنی لکه اولاد، پلار، کاکا یا ماما او د هغوی اولادونه د تورنو کسانو د نا کړی جرم له کبله په امن کی وو؟ د شهید وکیل سیف الرحمان پلار مولوی حیدر خان چی تر ۷۰ کالو د زیات عمر لرونکی و، د خپل کلی نه د دهقان زوم سره چی یاغستان نومیده او په هیڅ نه پوهیدل، ولی زندان ته واچول شول او بیا په کوم جرم په عمری قید جزا محکوم شول؟ د ډګروال کوهاټ خان زوی لومړی بریدمن تاج ملوک ولی د وظیفی نه وشړل شو او پنځه کاله، کورنی ته د ا ذوقی د پیداکولو د پاره د رکشا چلولو ته مجبور شو، د شهید ماما زرغون شاه تنکی زلمی زوی شاه محمود ولی او په کوم جرم د دهمزنګ په زندان کی بی د یو شهرت تر اخستنی څخه د پلار له مړینی وروسته هم د شپږو نورو میاشتو د پاره په زندان کی پاتی شو؟ اوداسی په لسګونو نورمثالونه هم شته. ایا د رژیم واکدارانو ته جرم د هر چا خپل ځاني شی و؟ او که د تورنو ټول متعلیقین حتی واړه ما شومان هم په دی ناکړی جرم کی شریک وو؟ په راحتی فکر وکړی او بیا فیصله.

د همدی مادی په نهمه فقره کی راځي چی:

(تعذیب انسان جواز ندارد. هیچ کس نمی تواند حتی به مقصد کشف حقایق از شخص دیگر، اگرچه آن شخص تحت تعقیب، گرفتاری یا توقیف و یا محکوم به جزا باشد، به تعذیب او اقدام کند یا امر دهد.... اظهاریکه از متهم یا شخص دیگر بوسیله اکراه بدست اورده شود اعتبار ندارد)



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

پوښتنه : پورته مفهوم په غور ولولی، څومره ستر انسانی ارزښت پکی نغښتی دی، که په جرم تورن بی له تعذیب،جسمی او روحی آزار، شکنجی او وهلو ټکولو پرته د مؤثقو اسنادو، مدارکو او شاهدانو د موجودیت په صورت کی په جرم معترف شی او محکمه د همدی شواهدو په رڼا کی عادلانه فیصله صادره کړی، ټولنه به په څومره ارامی او بریالیتوب سره د جرمونو په مخنیوی او په رژیمونو باندی د باور او د هغی نه د ملاتړ په کولو کی خپله ونډه تر سره کړی؟ ایا د دی کودتا په تور تورنو کسانو ستاسو له نظره د شواهدو، مدارکو او مؤثقو اسنادو په ارایه کولو سره په خپلو جرمونو اعتراف کړی او که د تعذیب او اکراه په نتیجه کی؟ بیاهم دښه فکر نه وروسته په دی برخه کی طرف ونیسی.

او د همدی پنځه ویشتمي مادی په وروستیو دوه پاراګرافونو کی لولو چی:

(اقرار به جرم عبارتست از اعترافی که متهم برضای کامل در حالت صحت عقل به ارتکاب جرمیکه قانوناً باو نسبت داده شده، در حضور محکمه باصلاحیت مینمایند. هر شخص حق دارد برای دفع اتهامی که قانوناً باو متوجه شده، وکیل مدافع تعیین کند.)

پوښتنه: که چیری د رژیم واکدارانو د دی تش په نامه کودتا د تورنو اشخاصو په وړاندی انکار نه کیدونکی اسناد در لودلی نو ولی یی یواځی په بندو کوټو کی د متهمینو او د مستنطیقینو په هغو ثبت شوو اوازونو چی د تورنو له سایکالوجیکی حالت څخه په ډیر وضاحت سره معلومیږی چی یو اعتراف کونکی هم په نورمال حالت کی قرار نه لری اویا په جبر او اکراه سره د ځینو محدودو تورنو کسانو په لیکنو چی هره لیکنه په لسګونو قلم خوردګی اوغلطی لری په ورځپانو کی خپرول کافی ګڼي او د کودتا مکمل پلان او د هغه خارجی هیواد سره داړیکو د لرلو اسناد ، چی د کودتا کونکو سره یی مرسته کوله د ملت سره شریک نه کړل؟ او ولی د خلکو د باور او قناعت د پاره اقلاً د څو محدودو تورنو کسانو محاکمه چی د یو بل وطن د پاره یی جاسوسي کوله په علني توګه محاکمه نه کړل، ایا د جاسوسانو په محاکمه کولو سره به یی د کوم بد عکس العمل په ځای، د خلکو لا زیات باور نه وایی تر لاسه کړی او جاسوسانو ته په څرګنده توګه په جزا ورکولو سره به د خلکو زړونه لا نور هم نه وایی ساړه شوی؟ د پوره غور او دقت له مخی ځان قانع کړی. ددی، اساسي قانون نهه ویشتمه ماده داسی حکم کوي:

(ملکیت از تعرض مصوون است، ملکیت هیچکس بدون حکم قانون و فیصله محکمه باصلاحیت مصادره نمی شود)

پوښتنه: که د یوی شیبي د پاره دا ومنو) چی په هیڅ وجه د منلو او قبلولو نه ده (چی دې تورنو کسانو په ریښتیا هم غوښتل چی د کودتایی رژیم په ضد یوه بله کودتا وکړئ ایا د دوی ملکیت چی د دوی په نه شتون کی د دوی د ورثه وو حق دی او د دوی په پلان کی په هیڅ بڼه دخالت هم نه لری او قانون هم د دوی ملکیت له تعرض نه مصؤن ګڼلی، بی له دی چی د کومی باصلاحیته محکمي احکام موجود وی دا ملکیتونه (منقول او غیر منقول) ضبط او مصادره کیږی او کوچنی او لادونه او تور سری یی بی له اعاشی او اباطی څخه پاتی کیږی؟ ایا زمونږ په زمانه کی بی له کمونستانو نه په موجوده دنیا کی بله داسی ډله یا ګروپ څوک پیژنی چی دومره غیر انسانی فیصله وکړی او په ډیره خشنه توګه یی عملی کړی؟ زمونږ د کورنی سره د شهید زرغون شاه ماما تر شهادت وروسته همدا عمل شوی، ټول جایداد بی له دی چی مونږ ته اسناد را وښول شی ضبط شو او د کور قالینی او د اشپزخاني تر سامانه پوری هرڅه د پروان میني د پولیسو ماموریت ته یوړل شول، د ملکیت ټول اسنا د مالیی وزارت ته نقل او په زیات اسرار سره د ماما د یوه ماشوم زوی په موجودیت کی په یوه الماریٔ کی مهرو لاک شول، یواځی یو کور ورته په کابل کی پریښودل شو او نور یی ټول جایداد چی زیاته برخه یی په جلال آباد کی وو، ضبط شو، له همدی وخته بیا د حضرت صاحب صبغت الله د زمامداری تر وخته پوری ټول جایداد ضبط او عاید یی یا دولت او یا هم د ګوند بودجی ته انتقالیده.

دلته غواړم یوه خاطره د درونو لوستونکو سره شریکه کړم:

هغه وخت چی ډاکتر حسن شرق د ډاکتر نجیب الله د زمامداری په وخت کی د صدارت مقام ته ورسیده، په ملی شورا کی د ننګرهار د پچیرـ آګام او هسکی میني له زون څخه ډاکتره کبرا مظهری د خلکو استازی وه، هغی ته ډاکتر شرق ویلی و، چی د ماما د کورنی کوم غړی راته راوله چی څه خبری ورسره لرم . نوموړی زه په جریان کی واچولم ما د ماما یو زوی چی معیوب و او په کابل کی اوسیده خبر کړ. کبرا مظهری ورنه د ملاقات وخت واخست چی کله ورغلو نو شرق صاحب وویل چی

که تاسو خپله کورني را غواړی چی وطن ته راشی او د ملی مصالحی د روانی پروسی نه په ګټی اخستنی سره د دولت سر ملګری شی نو زه به د ډاکتر صاحب نجیب الله سره خبری وکړم او ټول جایداد به مو بیرته درته د حاصل سره مسترد شی. د شهید ماما زوی ورته وویل چی ولی مو ضبط کړی وو چی اوس بیرته راکوی؟ ډاکتر حسن شرق ځواب ورکړ چی» این همه کار های سردار داود بود کسی دیگر مسؤولیت نداشت «د شهید ماما زوی ورته وویل چی» برای فعلاً نګاهش کنید.» تردی وروسته ډاکټر نجیب الله هم دوکتور کبرا مظهری ته ویلی و چی که د شهید ماما زامن او ورونه د ملی روغیجوړی له پروسی سره یوځای شی نو دعاید سره د جایداد له مسترد کیدو تر څنګ به لوړې دولتی چوکی هم ورکړم، خومیرمن کبرا مظهری ورته ویلی ؤ، ما د ماما زوی د ډاکټر صاحب شرق سره مخامخ کړ څه ګټه یی ونه کړه، نو له دی کبله نوره نه غواړم په دی برخه کی وخت ضایع کړم. اوس نو ګران لوستونکی له دی ځایه پوهیدلی شی چی د سردار صاحب په څنګ کی شوروی پلوی ګروپ په څومره مهارت سره د لستوني د مار په توګه کار کاوه او ورو ورو د خپل راتلونکی شوم او ضد انسانی پلان ډ عملی کیدو په لور روان وو؟

ټول پوهیږو چی افغانستان د اساسي قانون تر څنګ په ۴۴۱۳ هـ ش کال کی د جزائي اجرا آتو قانون هم نافذ کړ چی د همدی کال د جوزا د میاشتی په پنځمه نیټه په رسمی جریده کی خپور شوی. باید و وایم چی د اساسی قانون په څیر د جزاء قانون هم د جمهوری نظام په لومړیو کی نافذ و او بیا په ۳۵۱۳ کال کی څه تعدیلات پکی را وستل شول او په ۳۵۱۳/۱/۵۱ نیټه د رسمی جریدی په ۸۶۲ ګڼه کی چاپ شو. تردی وروسته په ۲۶۱۳، ۶۶۱۳، ۱۳۷۰ او بلاخره په ۱۳۹۳ کال کی هم په دی قانون کی څه تعدیلات را منځ ته شوی خو د افرادو په حقوقو او وظیفو کی کوم خاص بدلون نه دی راغلی. راځی چی دی قانون ته مراجعه وکړو او د فرد حقوق پکی د څرنی لاندی ونیسو تر څو و پوهیږو چی د رژیم په دننه کی غرض لرونکو واکمنوعناصرو د ملی اشخاصو او د وطن د ریښتینو خدمتګارانو په وړاندی د کودتا کولو په بهانه د څومره وحشت نه کار اخستی دی:

د جزایی اجرا آتو د قانون د شپږمی مادی لومړی فقره وایی: (برخورد منصفانه، احترام به کرامت انسانی و حفظ حرمت شخصی.)

پوښتنه: درنو لو ستونکو ایا ستاسو په نظر د دی تش په نو م کودتا په تور د نیول شوو تورنو کسانو سره د تحقیق په جریان منصفانه چلند شوی او د دوی د انسانی کرامت او شخصی حرمت ساتنه شویده؟ د همدی قانون د اومی مادی دریمه فقره داسی حکم کوی: (مصوونیت از توهین، تحقی، تعذیب جسمي، رواني و هر ګونه برخورد غیر انساني.) پوښتنه: څه فکر کوی چی دی مغرورو انقلابیانو به د دی متهمینو سره د سوال ځواب په وخت کی د قانون د پورته ښوول شوو څیزونو څومره پیروی کړی وی او څومره به یی په پام کی نیولی وی؟ د همدی مادی څلورمه فقره کی لولو چی: (دادن اطلاع به فامیل یا اقارب وی حین ګرفتاری از طرف مرجع ګرفتار کننده.)

دلته د پوښتنی اړتیا ځکه نشته چی د هیڅ تورن کورنی ته دنیولو په وخت کی دا خبره نه ده شوی چی پر ده باندی کومه اشتباه ده او دی توقیف دی، بلکی اکثره په دی نامه له کوره را ویستلی شویدی چی سردار صاحب یا کوم بل صاحب غوښتئ دي، همدا بی خبری وه چی مونږ ټول په اونیو اونیو کله د یوه او کله د بل درګاه ته د همدی د پاره ورتللو چی د خپل نیول شوی پلار، کاکا ، ماما یا بل او بل خپل خپلوان د توقیف ځای پیدا کړو چی جامی او درمل ورته یوسو، ځکه دوی په مجموع کی د پاخه عمر لرونکی اشخاص وو چی هر یوه روغتیا یی ستونزی درلودی.

د همدی اومی مادی اومه فقره داسی صراحت لری: (استفاده ازحق سکوت و امتناع از هرګونه اظهارات) دلته هم د پوښتنی اړتیا ځکه نه لیدله کیږی، چیرته چی کوم تورن مدافع وکیل ونه لری او د رنګا رنګ زجر او ازار په آلاتو او طریقو په ناکړی جرم اعتراف ته مجبوریږی، هلته د سکوت حق مفهوم نه لری.

د همدی مادې په اتمه فقره کی دا سی حکم شویدی (تعیین و کیل مدافع با داشتن مساعد حقوقی مطابق احکام.)

ایا داسی څوک به د رژیم په پلویانوکی پیداشی چی د نمونی په توګه په ټولو نیول شوو کسانوکی له شهید محمد هاشم میوندوال نه رانیولی بیا تر وروستی تنه پوری، یو شخص په ګوته کړی چی د مدافع وکیل یا د حقوقی مساعد د لرلو نه یی ګټه او ښته کړی وي؟

نهمه ماده بیا داسی حکم کوی: (لومړی فقره: مظنون و متهم میتواند در هر مرحله از خود دفاع نماید)

ځواب بیا هم هماغه ډول دی لکه پورته چی وړاندی شو، په دی ټوله جوړه شوی ډرامه کی هیچا ته د دی حق نه دی ورکړ شوی چی حتی د ځان نه د دفاع په هکله د یوی کمی شیبي د پاره فکر هم وکړی.

دویمه فقره): مظنون و متهم میتوانند در عین زمان الی سه نفر وکیل داشته باشند.)

دا ډیره په زړه پوری ده، د پښتو یو متل دی چی وایی: «چا په کلی کی نه پرینبوده خو هغه ویل، زما آس د ملک کورته بوزئ».

دی مظلو مو تورنو ته د خپلی کورنی د غړو سره د هیڅ ډول اړیکی لرلو اجازه نه وه، ټول ګروپ ته د یوه وکیل د لرلو حق نه وو ورکړ شوی، د یوه تن د پاره د دری وکیلانو د لرلو حق خو لا ډیره لری خبره ده.

د دی قانون د ۲۲ مادی لومړی فقره داسی صراحت لری: (مامور ضبط قضا یی، څارنوالی، و محکمه در هیچ حالت اجازه ندارد، خود یا از طریق شخص دیگربا رفتار سوء، استعمال مواد مخدر، اکراه، شکنجه، خواب مقناطسی، تهدید وتخویف یا وعده دادن به منفعتی، مظنون یا متهم را به اظهار یا اقرار وادار نمایند.)

تر کومه ځایه چی اسناد او شواهد په لاس کی دی، د دی ټولي ډرامي جوړونکی د شوروی پلوو ډلو غړی اوکه لړ په وضاحت سره وویل شی د(کی، جی، بی) همکاران وو. همدا کسان وو چی هم یی دا پروژه طرحه کړه، هم یی په سردار محمد داود خان منظوره کړه، هم یی په خپله خوښه د تورنو په لست کی د اشخاصو نومونه ولیکل، هم یی له دوی څخه د تحقیق ټوله پروسه په خپل لاس کس ونیوه، هم یی په ناکړی جرم په ټولو هغو شخصیتونو باندی چی ټول عمر یی د وطن او وطنوال د عزت او شرف د ساتني ویاړ درلود، په وهلو ټکولو او راز راز شکنجو او غیر انسانی سلوک اقرارونه وکړل او هم یی پخپله د غیر مسلکی کسانو محکمه جوړه او د نیم ساعت په اوږدو کی یی ورته جزاګانی تعیین او د سردار صاحب تر لاس لیک اخستني وروسته تطبیق او د اعترافاتو ثبت شوی اوازونه یی د کابل راډیو له لوری نشر ته و سپارل. دوی په دی بریالی عمل سره د خوښیو مجلسونه جوړ کړل، پیکونه یی پورته کړل، یو بل ته یی مبارکی ورکړی او د راتلونکی ګزار د پاره یی د هوښیار او مدبر سردار صاحب دواړه (سیاسی او نظامی) متي ورغوښي کړی. دوی بی له دی چی انسانی حرمت ته ډیر کوچنی درناوی وکړی، د دوی په منګولو کی ګیرو اشخاصو سره داسی سلوک او چلند کړیدی چی زمونږ په ټولنیز تاریخ کی شاید ډیری کمی نموني ولری.

همدارنګه دویمه فقره وایی: (اظهار یا اقراری که از مظنون یا متهم با استعمال وسایل مندرج فقره۱( ) این ماده اخذ شده باشد قابل استناد نمی باشد.)

کاشکی هلته داسی یوی محکمی وجود در لودای چی د قانون او عدالت د تطبیق د پاره پکی په شرعی او ټولنیزو قوانینو پوه او فاضل اشخاص د قضاوت د پاره ګمارل شوی وای. که څه هم په دی وخت کی مرحوم ډګر جنرال غلام فاروق خان چی په شاهي دولت کی یی د لوی درستیز په حیث دنده درلوده د نظامی محکمی د رئیس په توګه کار کاوه، خو ما چی د هغه سره هماغه وخت له نژدی خبر کړی وی او همدارنګه د کودتا په تور د ډیرو هغو تورنو کسانو له خولی چی وروسته له زندان نه را خوشی شوی او ما ورسره خبر کړیدی، مرحوم فاروق خان ته له یوه متهم سره هم د خبرو حق نه دی ورکړی شوی ،بلکی هغه یی صرف د ده په څنګ کی د نورو ناستو څلورو تش په نامه قاضیانو د فیصلو او په متهمینو باندی د سزاګانو د تعیین د لاس لیک پاره د ځان سر کښینولی و، هغه هم د همدی تورنو کسان په څیر مجبور ؤ ،چی د دوی غوښتني ومنی او که نه نو هغه به هم د هغو نورو تورنو په سر نوشت اخته شوی وای. نو ایا په دا ډول حالاتوکی به څنګه د قانون د نورو مادو په څیر د دی مادی د حکم د تطبیق تمه توقع پیدا شی؟ تاسو څه فکر کوی چی د کودتا په تور د تورنو اعترافات د همدی مادی په لومړی فقره کی د ښو ول شوو وسایلو په کارولو سره نه دی ترسره شوی؟

د دی قانون د ۶۲ مادی حکم داسی دی): اشخاص زیل را نمی توان من حیث شاهد مورد استجواب قرار داد (دریمه فقره) شریک جرم، درصورتیکه رسیدگی قضیه مورد اتهام آن ها بصورت مشترک جریان داشته باشد.)
دلته یواځی غواړم دا پوښتنه وکړم چی په دی تورنو اشخاصو باندی، د همدی تورنو د ډلی نه غیر بل چا هم په کوم تورن باندی دا شاهدی ورکړی چی دې کسانو کودتا کوله؟ یوځل بیا د دی د پاره چی دا خبره درته ښه واضح شوی وی د متهمینو ثبت شوی اوازونه چی ښاغلی قاسم باز هغه د افغان جرمن په پورتال کی ځوموده پخوا نشرته سپارلی دی، واوریٔ، تر څو معلومه شی چی دا د یوه شریک جرم تورن کسان څنګه په جبر او راز راز شکنجو سره یو پربل شاهدیٔ ورکولو ته مجبور شوی دی؟ حال داچی قانون په صراحت سر وایی چی د جرم د شریک شاهدي اعتبار نه لری. ولی د دی پروژی طرحه کونکو ته هیڅ ډول قانونی احکام نه اعتبار لری اونه ارزښت.

او بلاخره د جزایی اجرا آتو د قانون په د ۳۲۰ مادی په لومړی فقره کی شوی حکم داسی دی): جسد شخص اعدام شده بعد از تنفیذ حکم به اقاربش سپرده میشود (دهمدی مادی دویمه فقره دا رنګه صراحت لری: (هرگاه شخص اعدام شده اقارب نداشته باشد ویا اقاربش از تسلیم شدن جسد او امتناع ورزد، جسد وی به مصرف دولت مطابق به احکام شریعت اسلام دفن میگردد.)
د قانون له مخی، خو کله چی دا څو تنه تورن کسان دوی په اعدام محکوم کړل باید د حکم د تنفیذ نه وروسته د دوی جسدونه د دوی اقاربو ته سپارل شوي وای، چی نه یواځی دا کار ونه شو بلکی د وژل شوو کسانو کورنی یو ځل بیا دی ته مجبورې شوې چی د خپلو عزیزانو د جسدونو د لاس ته راوړلو د پاره د احتیاج لاسونه وغزوی او د هغوی جسدونه په خیرات و غواړی.
مونږ ته د شهید ماما مړیٔ دېرو هلو ځلو نه وروسته اوه لسمه ورځ د سردار صاحب محمد داود خان له امر نه پس د داخله وزارت له لوری په تیاره ماښام کی راکړل شو او امر وشو چی له هرډول مراسو پرته په هرځای کی چی غواړیٔ باید تر سهاره یی خاورو ته وسپاریٔ. (د شهید میوندوال مړی خو نه یواځی داچی اقرباو ته ورنکړل شو، بلکی بی له کفن او جنازی څخه شاید په کوم زاړه قبر کی اچول شوی وی چی تر ننه پوری چاته نه دی معلوم) دا وو د نوی ولسی او جمهوری رژیم عدالت او انصاف.
دلته غواړم یوی بلی نقطې ته هم اشاره وکړم او هغه داچی د ټولو بشری قوانینو له مخی هر مجرم ته باید د هغه د جرم په اندازه سزا وکوله شی. یوځل بیا له تاسو نه غوښتنه کوم چی د دی کودتا په تور د نیول شوو کسانو ثبت شوی صوتي کست چی په همدی پورتال کی نشر شویدی د شهید ما ما زرغون شاه له خولی د مستنطق د پوښتنې په ځواب کی واوری: (مستنطق: شمارا چه وظیفه داد باز ؟ ماما: نی به ما کدام وظیفه نه داد، گفت هر وقت که سرت صدا کردیم، ما گفتم خوب اگر صدا کردی.)
په دې قضیه کی (چی ماته سرا سر یو غیر واقعی ډرامه او دسیسه ښکاری)، ماما هسی یو تورن دی چی هیڅ مشخصه وظیفه نه لری، نه ورته د پلان له مخی دکوم چا سره په کومه برخه کی د همکاری وظیفه ورکړشوی، نه ورته د وسله وال عمل د پاره د کومی وسله والي نظامي قطعي مسؤولیت ور کړ شوی، نه ورته د کودتا ئی عمل د ملاتړ د پاره یا د قوم اویا په اردو کی د کار کولو دنده سپارل شوې او نه دا او نه دا.... صرف ورته ویل شوی (اگر سرت صدا کردیم) اوس نو دا معلومه نه ده چی په ده باندی به غږ کیده او کنه؟ دا معلومه نه ده چی دا کودتا یی عمل څه وخت او کله پیل کیده؟ او دا هم معلومه نه ده چی د دی تش په نامه کودتا د پلان سره د تورنو کسانو موافقه راتلله او کنه؟ او همداسی په لسګونو نوری پوښتنی. نو ایا تاسو درانه لوستونکی قضاوت وکړی چی دارنګه یو تورن ته چی تش ورته ویل شوی وی (اگر سرت صدا کردیم)، چی نه یی کوم عمل سرته رسولی وی، نه یی د کوم عمل د پاره پلان طرحه کړی وی او نه یی دکومی خاصی دندی د سرته رسولو ژمنه کړی وی، باید د مرګ سزا ورکړله شی؟ باید اعدام شی؟ باید تنکی زلمی زوی یی هم بی له پوښتنی تر نهو میاشتو پوری په زندان کی پاتی شی او بیا دی د هغه نیکه د سختو هلو ځلو وروسته د سردار صاحب په لیدلو بریالی شی او د حپل ناحقه وژل شوي زوی د جسد د غوښتنی سره سم دی له سردار صاحب نه د خپل لمسی د خلاصون غوښتنه هم وکاندی؟ او ددی ټولو خبرو تر شا دی بیا د شهید ماما ټوله منقوله او غیر منقوله دا رایی او شتمني هم ضبط او مصادره او واړه ماشومان دی بی نفقی او بی اذوقی

پاتی شی؟ هر څوک په خپل قضاوت کی آزاد دی، نو زه هم ځانته دا حق ورکوم چی و وایم: زمونږه تولنه کورنی، تېر او دوستان په دی باور دی او وو چی، سردار صاحب دا ود خان یو احساساتی او جزباتی وطنپرست و، د دی تر څنګ یو خود خواه او مغرور زمامدارو، د مخالف شخصیت د وجود زغم یی نه درلود او په اسانی سره دغرض خاوندانو خپل مخالیفین د ده د مخالیفینو په خیره بدلولی او هغه یی دده په ذریعه له منځه وړلی ش و.د محمد هاشم میوندوال په مشری د کودتا کولو په تور تقریباً تول نیول شوی کسان د سردار صاحب دوستان او مینه وال وو، خو د ده تر څنګ ناستو چپی عناصرو هغه ورته د دښمنانو په بڼه ښرګند کړل او کله چی یی دا مرحوم یواځی کړ نو بیا مو ولیدل چی د ده سره یی څه وکړل او په څومره وحشیانه او ضد انسانی بڼه یی هغه د تولی بی ګناه ګورني سره د تل د پاره ختم کړ.

تول په دی پو هیږو چی په یو تولنه کی د عدالت او انصاف له مخی پریکړې هغه وخت کیدلی شی چی، تر تولو د مخه د تولني واکداران او زمامداران د خپلو تولنیزو قوانینو او مقرراتو نه، نه یواځی متابعت وکړی، بلکی د تولنیز نظم د ساتني او د تولنیز عدالت د تامین په منظور باید هره پیښه د قوانینو او مقراراتو په رڼا کی په سمه توګه و څیری او په دی توګه خپل رعیت ته دا وروښایی چی ددوی تول حقوق خوندی او د دوی دولتي زعامت هیڅ فرد او ډلی ته د دی اجازه نه ورکوی چی د قوانینو د ماتیدو او نقض له کبله د دوی بشري او مدني حقوقو ته زیان ورسیږی. ایا د همدی جمهوری نظام او یا که لږ په دقت سره ووایم په تولو شاهی او را وروسته نظامونو کی زمونږ په هیواد کی مروجه قوانینو ته بی د نظام د واکدارانو نه بل چا کوم خطر متوجه کړی او یایی ورته زیان اړولی دی؟ ایا د سردار صاحب د جمهوریت د تسلط په دوره کی، د خلق د دیموکرتیک ګوند د تسلط په دوره کی، د مجاهدینو د واکمنی په دوره کی، د طالبانو، وریسی د کرزی او د دنن ورځی د ملی وحدت په دولت کی د شرعی اصولو نه را نیولی تر تولو قوانینو پوری، د دی قوانینو لوی نقض کونکی او د پښو لاندی کونکی څوک دی وکداران که عام خلک؟

زه په آخر کی د تولو دوستانو نه هیله لرم، دهر څه په هکله چی قضاوت کوی د حقیقتونو د میندلو، زمونږ د تولنیز حالت د مثبت بدلون او زمونږ د راتلونکو نسلونو د سمی لارښوني په منظور یی وکړی نه د ځاني ګتو او یا ځینو نورو ملحوظاتو د په نظر کی نیولو له مخی.

## پای

لمړی برخه:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kliwal_S/soltan_j_kliwal_de_maiwandwal_de_coupdetat_pator_١.pdf